# د ډیورنډ پر پوله ستونزې: له مجاهدو ولسونو څخه د اشغالګرو انتقام

سیمې ته د امریکایي استعمار له راتګ او د افغانستان له اشغال وروسته، د سیمې مسلمانان له داسې ګڼو ستونزو سره مخ شول چې تر دې مخکې یې په خوب هم نه وې لیدلې. له دغو ستونزو څخه یوه هم پر پوله د مېشتو قومونو تر منځ د تګ راتګ ستونزمن کېدل او دې ته ورته د پاکستان او افغانستان د مسلمانو ولسونو ترمنځ راکړه ورکړه وه. دا هرڅه د امریکا او ناټو او د هغوی د پاکستاني او افغاني لاسپوڅو چارواکو په واسطه له «تروریزم» سره د مبارزې په نامه ترسره شول.

ځکه امریکا خپل لاسپوڅي افغان دولت ته پاکستان د دښمن په توګه معرفي کړ. په دې اړه یې د شوروي پر وړاندې د افغان جهاد په اوږدو کې د ناروا ملي ګټو پر بنسټ د پاکستاني دولت ناسمې پالیسۍ او ستراتیژۍ او د افغان جهادي او سیاسي مشرانو غفلتونه د بېلګو په توګه وړاندې کول. تر هغه چې له اشغال څخه زېږېدلو ټولو رسنیو او چارواکو همدا غږ پورته کړی و، چې باالآخره عام ولس یې هم د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې راغی او نور نو هغوی هم پاکستان او پاکستانیانو ته د دښمن خطاب کاوه. د یادولو وړ ده چې په دې وروستیو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ کلنۍ سوداګري له دوه نیمو ملیارده ډالرو څخه یو میلیارډ ډالرو ته کمه شوې ده.

خو د اشغال زېږنده افغان دولت تر ننه داسې کومه فعاله ستراتیژي جوړه نه کړه چې د دوی په اند له دښمن څخه د ولس د اړتیاوو د پوره کولو مخه ونیسي او په طبیعي ډول خلک له پاکستان سره له راکړه ورکړې مخ واړوي. دا ځکه چې تر شا یې کافر ښکېلاکګر او خاین چارواکي وو. هغوی خپلو کې یو له بل سره تفاهم درلود، خو د دا ډول شرایطو په واسطه یې په مسلسله توګه د سیمې له مجاهد ولس څخه چې د پولې پر دواړو خواوو پروت دی انتقام اخیست. دا انتقام له امریکا او ناټو سره یوازې د روان مقاومت له امله نه و، بلکې د دغه سیمې خلکو (د پولې دواړو غاړو قومونو) له نور افغان ولس سره په مرسته درې ځله انګریزان، یو ځل شورویان او اوس یې امریکایان په ګونډو کړي دي.

له یوې خوا د ډیورنډ د تحمیلي پولې پر دواړو اړخونو باندې پراته قومونه، یو له بل سره خپلوی، سوداګري او هر ډول راکړه ورکړه لري. آن تر دې چې یو-یو قوم د مصنوعي او تپل شوې پولې په واسطه دوې ټوټې شوی دی او له بلې خوا د افغان جهاد پرمهال پاکستانیان او افغانان تر پخوا هم سره نژدې شوي وو او یو بل ته یې د انصارو او مهاجرینو په سترګه کتل. مګر صلیبي یرغلګر هېڅکله نه غواړي چې دوه مسلمان ولسونه دې یو له بل سره دومره نژدې شي. نو ځکه یې افغانانو ته د خاینو چارواکو او د غرب پر مالي ملاتړ رسنیو پر مټ پاکستان د دښمن په نوم ور وپېژانده. حال دا چې د پاکستان او افغانستان نظامونه دواړه ملي، د امریکا لاسپوڅي او د

خاینو او ګوډاګیو مشرانو په واسطه رهبري کیږي. خو دا مسلمان ولسونه دي چې یو له بل سره یې د انصارو او مهاجرینو په توګه چلند کړی دی.

له همدې امله امریکا د شلو کلونو په اوږدو کې پراخه هڅه وکړه تر څو پاکستانیان او افغانان سره بېل کړي او هر یو ځان-ځان ته کافر هندوستان ته اړ کړي. له همدې امله یې د پاکستان خاین چارواکي له کشمیر سره خیانت ته چمتو کړل او پاکستاني پوځ چې سیاسي عقیده یې پر جهاد ولاړه وه، له کشمیر څخه وزیرستان ته د خپلو مجاهدو ورونو د ځپلو لپاره راووست او د کشمیر مسلمانان یې د لاس تړلو اسیرانو په څېر د غوایانو د بندګانو ظلمونو ته پرېښودل. د دغو خاینو چارواکو په واسطه یې د پاکستان مسلمان پوځ دوو سترو ګناهونو ته وهڅاوه؛ لومړی، له کشمیري اشغال شوې خاورې څخه لاس اخیستل او د هند تر اسارت لاندې مسلمانانو سره مرسته نه کول او دویم، په وزیرستان کې د خپلو مسلمانو او مجاهدو ورونو وژل او ربړول. دا دواړه هغه ستر ګناهونه وو چې له یرغلګرو کفارو (امریکا او ناټو) سره د دوستۍ په پایله کې هغوی ترسره کړل.

بل پلو خاینو افغان چارواکو د امریکا او ناټو په لمسون ویل چې د «تروریزم» ځالې په پاکستان کې دي؛ نو ځکه یې ټول ډیورنډ پر اغزن تار بند کړ، چې تمویل او تطبیق یې د اشرف غني له حکومت سره په بشپړه همغږۍ خپله امریکا وکړ. دغه خیانت له یوې خوا په دواړو ولسونو کې د نشنلیزم پر بنسټ ناروا احساسات را وپارول، له بل پلوه یې افغانان او پر پوله پراته مجاهد اقوام له سختو کړاوونو سره مخ کړل؛ چې وروستۍ بېلګه یې د کرونا د ناورین له امله اووه میاشتې وروسته د پاکستان د وېزې اخیستو په موخه په جلال آباد ښار کې د لسګونه زرو خلکو راټولېدل او د هغوی لپاره ناسم انتظام د دې سبب شو چې تر لسو ډېرې مېرمنې ووژل شوې او سلګونه نور خلک ټپیان شول.

مګر بیا هم دا له پاکستان سره پر پوله د ستونزو پای نه دی. دغه پوله او نشلیستي یا ملت‌پال احساسات به مو همېشه دا ډول د غم په ټغر کېنوي. مریضان به مو پر لاره مري. د سوداګرو مالونه به مو فاسدیږي. مېوې او محصولات به د یو او بل تر مارکېټونو نه رسېږي. د خاینو چارواکو په دستور به مو سرحدي ځواکونه یو له بل سره نښتې کوي او یو او بل به وخت ناوخت په جاهلانه مرګ باندې وژني او ګوډاګي مفکرین به دا هر څه د خیالي هوایي دهلېزونو له لارې راباندې تحمیلوي.

پورتني ناوړه جغرافیوي او سیاسي واقعیت ته په کتو او له دې ترخې پېښې وروسته باید د دواړو اسلامي خاورو ولسونه دا درک کړي چې افغانان او پاکستانیان د یوې عقیدې وروڼه دي. کفار خپله ټوله هڅه کوي، ترڅو د دغه ورورګلوۍ مخه ونیسي. مګر دغه ورورګلوي باید ټینګه او لا پیاوړې شي، ځکه د اسلامي عقیدې غوښتنه ده. ناروا ملي مفکورې؛ ملي پولې، ملي ګټې، ملي بیرغونه باید پر واحد اسلامي بیرغ، د امت پر ګټو او د داراسلام او دارکفر پر پولو بدلې

شي او دا هغه وخت ممکن کېږي چې د افغانانو جنګي او جهادي، د پاکستانیانو سیاسي او ټکنالوژیک ظرفیت د واحد راشده خلافت تر سیوري لاندې را ټول شي او دغه وحدت تر پاکستان او افغانستان اخوا منځنۍ آسیا هېوادونو، بنګلدېش او نورې اسلامي نړۍ ته پراخ شي. دا مهال به مور د دولت-ملت د کرغېړنې غربي مفکورې له اوسني ذلت څخه خلاص او د خپل تېر زرین تاریخ عزت او برم ته یو ځل بیا ورستانه شو. هغه مهال به د کشمیر آزادي خورا آسانه وي. اسرائیل به د نړۍ له سیاسي نقشې د محوه کېدو شېبې شمېري او د هرې اسلامي خاورې مسلمان ولسونه به هڅه کوي، ترڅو له ټولو لومړۍ خپله خاوره له اسلامي نظام - د نبوت پر منهج راشده خلافت - سره یو ځای کړي.

د دغه موخې لپاره د امت تر ټولو ستر او سیاسي حزب؛ حزب التحریر، ستاسو په منځ کې هم په پاکستان او هم په افغانستان کې دعوت کوي، د هغه ملاتړ وکړئ، ترڅو الله سبحانه وتعالی ستاسو ملاتړ وکړي او دا د الله متعال لپاره کوم ستونزمن کار نه دی.

و ما ذالک علی الله بعزیز!

سیف الله مستنیر
د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس